# آيا په ځمکه کي ژوند له خلاء څخه راغلی دی

## بسم الله الرحمن الرحيم

**اسلام علیکم ګرانو ملګرو**

**زما نوم دی جلیل خان ارمان**

**او تاسو لولي د ستورپوهنی معلومات**

راځي چي نن زه تاسو ته د هغه سوال په اړه ووایم کوم چي ساینسپوهان پریشان کړي دي.

په ځمکه کي د ژوند څرنګه پیل وسو؟

تاسو ددغه سوال د مشکلاتو اندازه له دغه خبري څخه لګوالی سي چي انسانانو ددغه په اړه اووه نظریات جوړ کړي دي چي په ځمکه کي د ژوند پیل څه ډول وسو.په ۷ نظریاتو کي ۶ نظریات دا وایي چي د ژوند پیل خپله په ځمکه کي سوی دی خو له مختلفو ځایو څخه او په دغه ۶ نظریاتو کي ځیني نظریات دا وایي چي د ژوند پیل له سمندره وسو او ځیني بیا دا وایي چي د ژوند پیل آتش فشان څخه وسو او ځیني بیا دا وایي چي له غارو څخه وسو،مګر په دغه ۷ نظریاتو کي یوه نظریه داسي ده چي وایي: د ژوند پیل له فضا څخه سوی دی یعني ژوند وای له فضا یا خلاء څخه راغلی دی او دغه نظریي ته پینسپرمیا نظریه وایي.نو اوس دلته دا سوال پیدا کیږي چي آیا دا نظریه سمه ده؟

زه به تاسو په تاریخ کي هغه وخت ته به مو بوزم کله چي له یوې مادې څخه د ژوند پیل وسو کوم ته چي A Bio Genesis وایي یعني له موږ سره عضوي مادې سته او له دغه څخه لومړی ژوندی شی جوړ سو دغه پورسي ته A Bio Genesis ویل کیږي او له دغه وروسته له ژوندي ارګانیزم څخه نور ژوند ارګانیزم پیدا کیږي یعني له ژوندی جسم څخه ژوندی جسم پیدا کیږي.مګر پیل له غیر ژوندي شي څخه وسو.موږ که د خپلي ځمکي تاریخ ته وګورو نو زموږ په فکر ځمکه کم و زیات 4,5 بیلیونه کاله مخکي پیدا سوې ده زموږ په شمسي نظام کي.کله چي موږ ژوند ته ګورو یا د ژوند ماحول ته ګورو نو موږ ته معلومه سي که موږ د سیانو باکتریا خبره وکړو نو دا باکتریا موږ په استرالیا کي پیدا کړه او کله چي موږ ددغه باکتریا فوسیل تحلیل کړ نو موږ ته معلومه سوه چي دا څلور بیلیونه کاله پخوانۍ دي.ځمکه عمر 4,5 بیلیونه کاله دی او د سیانو باکتریا عمر 4 بیلیونه کاله،ددغه مطلب دا دی چي یواځي ۵۰۰ میلیونه کاله وروسته په ځمکه باندي د ژوند پیل وسو یا د ژوند ماحول رامنځته .له دغه خبري څخه ځیني خلک دا وایي چي ۵۰۰ میلیونه کاله ډېر کوچنی وخت دی A Bio Genesis لپاره یعني د ارګانیک مادې څخه په ځمکه کي د ژوند تر پیل کیدو پوري او ځیني خلک بیا دا وایي چي یا دا ۵۰۰ میلیونه کاله کي نه دی سوی بلکه ژوند له خلاء څخه ځمکي ته راغلی دی .زه دلته تاسو ته د پینسپرمیا نظریي په اړه درته وایم ،ددغه نظریي دري مرحلي په اړه درته وایم .

نو فکر وکړئ.موږ به تر ټولو آسانه ازمون یا طریقه به واخلو چي ځمکي ته ژوند له مریخ څخه راغلی،پام کوي ما دلته د ازمون خبره کړي ده.نو ددغه ازمون ۳ مرحلي به وي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

### اوله مرحله

له مریخ څخه ژوند د باندي را ووځي او له یو ځای څخه ژوند د راوتلو لپاره،ژوند به د زیات تودوخي او فشار مقابله کوي دغه مرحلي ته موږ ټوپ واهلو مرحله وایو او اکثره وخت دغه ته د اخراج مرحله هم ویلای سو.

### دوهمه مرحله

دا ژوند باید چي سفر وکړئ د را رسیدو لپاره.دغه مرحلي ته انتقالي مرحله هم ویل کیږي اکثره وخت دغه ته سفر په خلاء کي هم ویل کیږي

### دریمه مرحله

دا ژوند باید چي ځمکي ته داخل سي کوم ته چي کښیناستل هم وایي.

نو کله چي یو شی په فضاء کي سفر کوي نو هلته خو خلاء هم سته خالی ځای،برقي مقناطیسي څپې هم سته UV، وړانګي سته،ګاما وړانګي سته کوم چي یا خو له لمره را روان دي او یا هم د کوم بل ستوري څخه او له دغه وروسته زموږ سره دلته په تودوخه او فشار کي ډېر بدلونونه راځي.که شی د لمر و مخته راسي نو تودوخه یې زیاته سي او که ځیني چپ سي نو تودوخه ډېره کمه سي.نو په همدغه طریقې سره کله چي و ځمکي ته ژوند داخلیږي، نو دی به د ډېر زیات تودوخي مقابله به کوي دا ځکه چي د ځمکي په شاوخوا نن ورځ یو ډېر غټ پوښ سته یعني د هوا پوښ،که د ځمکي دغه طبقي ته که ژوند ورسیږي نو دی به د یو ډېر زیات تودوخي مقابله به کوي.نو دومره اسانه نه ده چي ژوند دي له کومي بلي سیارې څخه ځمکي ته راسي.

زه به تاسو بوځم د ډایناسورانو و زمانې ته کوم چي له نن څخه تقریبا ۶۰ اربه یا بیلیونه کاله مخکي یوه ډېره غټه فضایي ډبره راغله او زموږ له ځمکي سره ټکر سوه،کله چي دغه فضایي ډبره زموږ له ځمکي سره ومښتل نو د ځمکي زیاتره ډبري تر لرې ځایو پوري لاړل اودا ډبري چي تر تللي وې دا په سپوږمۍ کي هم ترلاسه سوه او موږ په دغه امید یو چي دغه ډبري به په مریخ کي هم تر لاسه کړو.نو هر کله چي په سیاره باندي د فضایي ډبرو بمباري کیږي نو د هغې سیارې خپلي ډبري تر لرې لرې ځایو پوري وپاشل سئ.نو ددغه مطلب دا دی چي ځمکه ،مریخ او سپوږمۍ یو په بل باندي بمباري کوي یا ډبري غورځوي،که چیري یوه ډبري غواړي له ځمکي څخه خارج سي نو دغي ډبري ته ۱۱،۲ کلومتره في ثانیه سرعت په کار دی یا که چیري کومه ډبره غواړي له مریخ څخه خارج سي نو لکه څرنګه چي د مریخ جاذبه کمه ده نو ددغه لپاره ډبري ته بیا ۵،۳ کلومتره في ثانیه سرعت په کار دی.مګر موږ په دغه پوهیږو چي زموږ په ځمکه باندي له مریخ څخه راغلي ډېري ډبري دریافت سوي دي کوم چي موږ ورته ګورو او مشاهده کوو یې.په همدغه طریقې سره کومه ډبره چي له مریخ یا له سپوږمۍ څخه ځمکي ته داخلیږي یا کومه بله فضایي ډبره چي ځمکي ته داخلیږي نو ددغه ډبري چي هغه وخت کومه د تودوخي درجه وي دا تقریبا تر ۱۶۰۰ درجې سانتیګرېډ پوري پورته سي.نو دلته زه دغه خبره واضح کول غواړم چي ډبري په خلاء کي له یو ځای څخه بل ځای ته حرکت کوي،نو آیا په دغه ډبرو کي کوچني ذرات هم په پټیدو سره تلای سي؟

موږ په دغه کوچنیو ذراتو باندي څېړنه وکړه او موږ ولیده چي دا څومره ټف دي؟ایا د دوي دومره زیاته تودوخه،خلاء،مایکرو جاذبه او فشار برداشت کولای سي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه سوال باندي ناسا ډېر کار وکړ.موږ په یوې مرمي باندي د مایکروف کولوني جوړه کړه او اور مو ور واچوه په لوړه تودوخه کي موږ ولیدل چي د مایکروف یا د کوچنیو ذراتو څه حال دی؟

نو کله چي اور راغلی او له ده څه وموښت نو موږ ولیدل چي هلته تودوخه ډېره لوړه سوه او خپره سوه او په دومره زیاته تودوخه کي هم مایکروف ژوندی پاته سوه او له دغه وروسته موږ مایکروف ته ډېر فشار ورکړ او دلته هم ځیني مایکروف ژوندي پاته سوه له دغه وروسته موږ مایکروف په مایکرو جاذبه کي امتحان کړه بیا هم ژوندي پاته سوه.له دغه وروسته موږ مایکروف له ډېرو سره یو ځای په ځمکه وغورځول نو کله چي دوي په ځمکه ولویدل نو د زیات هوا فشار له امله ډېره په سوځیدو سوه مګر په دغه کي هم مایکروف ژوندي پاته سوه.ددغه مطلب دا دی چي مایکروف ډېر پیاوړي وي په دوي کي په زیاته اندازه باکتریا هم وي او داسي مایکروف هم کوم چي په ډېره کمه او لوړه تودوخه کي ژوندي پاته کیدای سي کوم ته چي extremophiles وایي او همدارنګهfangs food دي او داسي زیات مایکروف سته په کوم باندي چي زه لیکنو اخته یم او دا داسي مایکروف دي کوم چي په داسي حالاتو کي ژوندي پاتیدالی سي،مګر سوال دا دی چي آیا زموږ په ځمکه کي مایکروف هر ځای حرکت کي دي؟

ددغه سوال د جواب لپاره کله چي ما د دوي یوه لیکنه مطالعه کړه نو ومي لیدل چي باکتریا او fang i دا تر ستراتوسفیر پوري موږ ته په نظر راځي.د ستراتوسفیر اندازه تر ۵۰ کلومتره پوري وي،نو تر ۵۰ کلومتره پوري موږ ته باکتریا او fang i په عامه توګه پیدا کیږي،مګر په دغه اوسني وخت کي یوه حیرانوونکي واقعه رامنځته سوه کله چي د نړیوال فضایي هډې په هغه برخه کوم چي روس یي مخته بیا یي هلته موږ د باکتریا یو DNA تر لاسه کړ.په پیل پیل کي انسانانو داسي فکر کاوه چي دا یو فضایي باکتریا ده یعني دا له خارجي برخي څخه راغلي ده مګر له څرنګه چي موږ په دغه څیرنه وکړه نو موږ ته معلومه سوه چي دا باکتریا له ځمکي څخه هلته تللي ده،نو ددغه مطلب دا دی چي باکتریا او ځیني نور مایکرو ذرات له ځمکي خارج کیدای سي،د ځمکي اتموسفیر ختا ایستلای سي.نو کله چي دوي خارج کیږي نو آیا دوي تر بلي سیارې پوري رسیدلای سي؟

ددغه سوال په جواب کي زه وایم چي د دوی د چلولو سرچینه یا منبع شمسي بادونه دي.هر کله چي مایکروف له یوې سیارې څخه خارج کیږي،د مثال په توګه تاسو ځمکه په نظر کي ونیسي،نو هرکله چي دوي له ځمکي څخه خارج سي نو د شمسي بادونو په وسیله تر لرې لرې ځایو پوري خپور سي مګر دغه شمسي بادونو سره یو تاوان هم تړلی دی او هغه دا دی چي دوي شعاوي هم ورکوي او دا شعاوي ددغه مایکروف DNA زیانمن کوي.د مثال په توګه که یو ساده مایکروف فضا ته لاړ سي نو ډېر زیات امکانات سته چي دی خلاء برداښت کړئ مګر دی دغه UV وړانګي او ګاما وړانګي نه سي برداشت کولای،نو ددغه لپاره دی یو ساتونکي ته هم اړتیا لري،یو داسي ساتونکی کوم چي دی له یوه ځای څخه بل ځای ته ورسوي.نو له موږ سره مختلف ساتونکي سته په فضا کي،د مثال په توګه زموږ سره شهابونه سته په فضا کي،لکی داره ستوري سته او همدارنګه نور کوچني کوچني ډبري سته په فضا کي.نو که چیري په دغه ذکر کړل سوو شیانو کي که مایکروف پټ سي نو کیدای سي چي دوي نورو ځایو ته ورسیږي،دا بلکل داسي دی لکه د درختو تخمونه چي موږ له یو ځای څخه بل ځای ته استوو.نو اوس سوال دا دی چي آیا په دغه مایکروف باندي داسي تجربه سوې ده چي له امله یي موږ ته معلوم سي دوي په فضاء کي هم ژوندي پاته کیدای سي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه سوال په جواب کي زه تاسو ته دا وايم ما خو تاسو ته د تودوخي،فشار ،مايکرو جاذبې په اړه وويل،مګر کله چي موږ دغه مايکرف فضاء ته يووړل نو موږ وليدل چي ځيني داسي مايکرود کوم له جملې څخه چي ټاډيګرېډز او نيماټوډز دي، دوي و فضاء ته په تلو سره غير فعاله سئ.دوي چي هر کله له غير مناسب حالتو سره مخامخ سي نو دوي په خپل شاوخوا باندي يوه سيپۍ جوړه کړئ او غير فعاله سي او ميتابوليزم يې هم بند سي بلکل داسي شکل ځانته اختيار کړئ لکه د يو اخروټ او همدا ډول پراته وي،پراته وي مګر هر کله چي دوي ته په راتلونکي کي اوبه ترلاسه سي نو دوي بيا د ژوند شکل اختيار کړئ.په دغه شي باندي چي کله ساينسپوهانو څيړني وکړې نو دوي وويل چي ټاډۍ ګرېډز تر لس کاله پوري داغه سي چلند کولاى سي.مګر په دوي کي چي تر ټولو غټ ګټونکى دى کوم چي دا عمل ډېر په سمه توګه کوي هغه باکټريا ده کوم چي په ډارمنټ شکل کي لاړ سې او تر کومه وخته چي دوي ته مناسب حالتونه ترلاسه نه سي نو نه هم دوي تر هغه وخته بيا توليد کوي او نه هم د دوي ميتابوليزم بيا فعاليت کوي او دوي دوه رګه سي او تاسو خبر ياست دوي تر څومره وخت پوري دا شکل اختيار کولاى سي؟

دوي تر ۱۰۰۰۰ څخه نيولې بيا تر ميليونو کلونو پوري په دغه طريقې سره پاته کيداى سي.نن ورځ هم موږ ته داسي باکټرياوي په ځمکه کي تر لاسه کيږي کوم چي اندوسپورس دي او کوم چي ډېر پخواني هم دي او د لکهاوو کلونو راهيسي هاييرنيټ هم دي،نو هر کله چي دوي فضاء ته لاړ سې نو دوي غير فعال کيداى سي مګر بيا هم دوي يو ساتونکي ته اړتيا لري دا ځکه چي په فضا کي چي کومي UV وړانګي سته دا زموږ د ځمکي د UV وړانګو څخه ۱۰۰ ميليونه واري زيات دي نو که کوم ساتونکى نه وي ورسره نو دوي به ډېر ژر ددغه پواسطه اېنارايټ سي يعني DNA به ور خراب کړئ چي له امله يې دا شيان مخته تلو سره کوم کار بيا نه سي کولاى.نو په همدغه خاطر زيات اړتيا دې ته ده که چيري موږ غواړو چي دا تخمونه تر لرې ځايو پوري يو سو نو د ډبرو په واسطه يې کولاى سو او داسي زياتره مايکروف موږ ته معلوم دي کوم چي په ډبرو کي ژوندي وي او دغه ته بيا اېنډوليف وايي او دا ايکسټريمو فايل وي.د ايکسټريمو فايل مطلب دا دى چي ډېره زياته تودوخه برداشت کولاى سي.نو که تاسو په اونلاين ډول د دوي عکسونو ته وګوري نو تاسو ته به معلومه سي چي دوي د ډبرو په داخل کي پټېداى سي.د ډبرو په داخل کي پټېداى سي نو ددغه مطلب دا دى چي دوي د شعاعو څخه ژغوړل کيداى سي.ولې چي تودوخه ،فشار،مايکرو جاذبه خو دوي برداشت کولاى سي.مګر دوي ته تر ټولو زيات خطره وو له شعاعو څخه او له شعاعو څخه ژغورل کيدو لپاره دوي په ډبرو کي لاړ سي او د همدغه له امله د آتش فشان په شاوخوا داسي ډېر مايکروف موږ وينو کوم چي ژوندي وي.مګر له څرنګه چي د دوي د ژوند عمر ډېر زيات دى کوم چي ما تاسو ته مخکي وويل چي دوي تر ميليونونو کلونو پوري ژوندي پاته کيداى سي ،نو دوي له يوه ستوري څخه تر بل ستوري پوري رسېدالى سي.مګر هر کله چي موږ دا خبره کوو چي موږ ته په کار ده چي موږ له يوه ستوري څخه بل ستوري ته لاړ سو نو کله چي موږ له ځمکي څخه وځو نو ما تاسو ته وويل چي موږ ته څومره سرعت په کار دى يعني ۱۱ کلومتره في ثانيه.مګر کله چي موږ له شمسي نظام څخه وتل غواړو نو لکه څرنګه چي د لمر جاذبه زياته ده نو د دغه لپاره موږ ته ډېر سرعت په کار دى.نو بايد چي ددغه ډبرو سرعت ډېر زيات وي،مګر که چيري دوي په يوې طريقې سره زموږ له شمسي نظام څځه ووځي او کرارکرار زموږ نږدې ترينه يا همسايه شمسي نظام ته ورسيږي نو هلته بيا ډېر مشکل وي د هغه نظام د ستوري او سياراتو لپاره چي دوي دي د خپل جاذبې قوې استعمال کولو سره دا دي د خپل ځان په شاوخوا څرخېدو ته مجبوره کړئ.ددغه مثال په زه تاسو ته اوس درکړم د يوې فضايي ډبري سره د کوم نوم چي omomoa دى.دا يوه فضايي دبره وه کوم چي له بل شمسي نظام څخه راغلې وه او زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شمسي نظام څخه تیره سوه مګر د لمر په شاوخوا یې څرخ ونه کړ،دا ځکه چي د لمر جاذبه دومره زیاته نه وه چي دی دي ته مجبوره کړئ چي دده په شاوخوا دور شروع کړئ.نو دا ډبره دستي تیره سوه ،نو په همدغه طریقې سره کومي ډبري چي له یو شمسي نظام څخه بل شمسي نظام ته ځي نو دا له منځ څخه تیریدای سي او ډېر کم امکانات یې سته چي داسي ډبري دي د کوم بل شمسي نظام د ستوري په شاوخوا وڅرخي.نو که چیري مایکروف په بل شمسي نظام کي پاته کیدای نه سي نو دوي هلته ژوند څنګه رامنځته کولای سي؟

ددغه په جواب کي زه تاسو ته وایم چي زموږ شمسي نظام ته ژوند هغه وخت راغلی کوم وخت چي زموږ ځمکه لا نه وه جوړه سوې یعني زموږ په شمسي نظام کي یوازي لمر شتون درلود او دده په شاوخوا ډبرو دایرې یا مدارونه په جوړولو سره دور یې کاوه او دغه عمل ته ویل کیږي پروټو پلانېټری ډیسک او هغه وخت چي دا عمل روان وو نو داغه رقم فضایي ډبري راغلې او په دغه ډبرو کي ګډي سوې او څرخېدو ته مجبوره سوې دا ځکه چي هغه وخت هر ځای ډبري وې او ددغه ډبرو له امله دا په یو دور کي راغله.له دغه وروسته کله چي دوي ځمکي ته راغلل نو مایکروف ته په ځمکه کي داسي مناسب ماحول پیدا سو چي له امله دوي دلته خپل آغاز وکړ مګر په نورو سیاراتو کي داسي حالات دوي ته نه سوه پیدا چي دوي دي مخته لاړ سي.

نو دا یوه نظریه وه مګر ددغه نظریې په مخالفت کي هم یوه نقطه داسي راوځي چي که چیري ژوند له خلاء څخه راغلی دی نو بیا خو موږ ته باید چي هر ځاي په خپل شمسي نظام کي ژوند ښکاره سوی وای،په خپل کهکشان کي ژوند ښکاره سوی وای .مګر تر اوسه پوري هر څومره چي موږ خپل کهکشان ته کتلي دي نو یو ځای هم د ژوند د اوسیدو شواهد نه سوه پیدا.نو که چیري ژوند دومره عام دی نو باید چي هر ځای ښکاره سوی وای.مګر آیا ژوند په رښتیا هم دومره عام دی چي موږ ته ګرسره نه ښکاري؟

نو ددغه سوال په جواب کي زه تاسو ته وایم چي په ځمکه کي د ژوند پیل سوی دی، د ژوند پیل له خلاء څخه نه دی سوی،ځیني خلک داسي فکر کوي او دا یوه د فکر وړ خبره کوم چي زه یې تاسو ته کوم او هغه خبره دا ده چي ځیني خلک داسي فکر کوي چي ځینو فضایي مخلوقاتو ژوندي تخمې یعني مایکروف او ارګانیک مواد کستاً د ځمکي وطرف ته راواستل او دا وای یوه بازي ده د هغو او په دغه خبري اوس هم زیاته څیړنه روانه ده.panspermia نظریې ته دومره اهمیت ور نه کړل سو ځکه چي که اهمیت ورکړل سوی وای نو باید چي زموږ په کهکشان کي هر ځای ژوند موجود وای او موږ به پرې پوه سوي وای چي له هغه ځایه ژوند راغلی دی.مګر لکه څرنګه چي زموږ په کهکشان کي موږ ته کوم بل ځای ژوند نه ښکاري نو په همدغه خاطر ډېر کم امکانات سته چي ژوند دي له فضا څخه راغلی وئ.نو د ژوند پیل له ځمکي څخه به سوی یې داسي خبره زیاتره ساینسپوهان کوي.مګر سوال دا دی چي آیا د ژوند داغه یو شکل دی کوم چي موږ وینو یا پرې پوهیږو؟

کاربني ژوند یا آیا سلیکاني ژوند نه سي کیدای یا آیا الکترو مقناطیسي ژوند نه سي کیدای؟

په دغه سوال باندي اوس څیړنه روانه ده دا خبره زه فالتو نه کوم.تاسو خپله فکر وکړئ او د ځان سره یو جواب پیدا کړئ چي آیا د ژوند یو بل شکل کیدای سي کوم چي زموږ و مخته دی مګر موږ ته نه ښکاري.

د نن ورځي معلومات مو په همدغه ځای پای ته رسیږي تر بیا چي زه جلیل خان ارمان ستاسو و حضور ته حاضریږم له بلي په زړه پوري موضوع سره په الله مو سپارم د خدای په امان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**